بسم الله الرحمن الرحيم

## د مومنينو هغه صفتونه چې د انفال سورت په دويم ايت کې راغلي دي!

**(ژباړه)**

موږ لا هم په داسې حالت کې ژوند کوو، چې امت د يوې لويې غمېزې (د خلافت دولت له منځه تګ) شاهد دی. هغه ورځ چې د مسلمانانو زړونه ودردېدل او له هغې ورځې وروسته پر له پسې له ستونزو سره مخ شول.

موږ په داسې حال کې د دغې دردونکې ورځې ياد تجربه کوو، چې د نبووت پر منهج د راشده ثاني خلافت د لمر ځرک ته په دغه رجب مياشت کې په تمه يو. د الله سبحانه وتعالی د ژمنې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زيري، د نصرت په وخت کې ژوند کوو. که موږ غواړو دغه زيری مو نصيب شي، نو د مومنينو هغه صفات بايد وپېژنو چې الله تعالی د انفال په سورت کې راوړي دي. هغه رښتونی الله تعالی چې په خپل عظيم کتاب کې يې فرمايلي دي:

**﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيتْ عَلَيهِمْ آياتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً وَعَلَى رَبِّهِمْ يتَوَكَّلُونَ﴾**

[انفال: 2]

***ژباړه:*** *رښتينې مومنان هغه دي، چې کله د الله تعالی نوم اخيستل کېږي، نو زړونه يې لړزيږي. کله چې هغوی ته اياتونه لوستل کيږي د دوی ايمان زياتيږي او پر خپل رب توکل کوي.*

علي ابن ابي طلحه له عباس رضی الله عنه څخه روايت کوي، چې هغه د دغه ايت د دې برخې په اړه وويل: **﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ﴾** يعنې منافقين چې کله د الله تعالی فرايض اداکوي، نو الله سبحانه وتعالی يې په زړه نه وي. د الله تعالی په هېڅ ايت ايمان نه لري، پر الله تعالی توکل نه کوي، په پټ ځای کې لمونځ نه کوي او زکات نه ورکوي. الله تعالی فرمايي، چې هغوی مومنين نه دي، نو د مومنانو صفات يې په لاندې درېو برخو وويشل:

1. ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ﴾

2. ﴿وَإِذَا تُلِيتْ عَلَيهِمْ آياتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً﴾

3. ﴿ وَعَلَى رَبِّهِمْ يتَوَكَّلُونَ﴾

﴿**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ**﴾ د الله تعالی د دغه وینا پر اساس، کله چې مومنین د الله تعالی نوم اوري نو ﴿**وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ**﴾ یعنې وېره او وحشت یې په زړه کې پیداکیږي او دا ددې لامل گرځي، چې د الله تعالی فرایض تر سره کړي.

«مجاهد» وايي: دا د هغه مومن صفت دی، چې په کامله توگه په الله تعالی ایمان لري. یعنې کله چې د الله تعالی نوم اخیستل کیږي، د هغه زړه کې «وجل» پیداکیږي. په دې مانا چې له الله تعالی وېرېږي او دا د دې لامل گرځي، چې په اوامرو یې عمل او نارواوو، څخه لرې شي. لکه د الله تعالی دا قول:

﴿**وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُواْ أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُواْ اللّهَ فَاسْتَغْفَرُواْ لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ اللّهُ وَلَمْ يصِرُّواْ عَلَى مَا فَعَلُواْ وَهُمْ يعْلَمُونَ**﴾

[آل‌عمران: 135]

*__ژباړه:__ کله چې څوک کوم ناروا کار تر سره کوي او یا د کومې گناه په کولو پر خپل ځان ظلم کوي، نو هماغه وخت الله تعالی وریادیږي او له هغه سبحانه وتعالی څخه د خپلو گناهونو بښنه غواړي. له الله تعالی پرته بل څوک دي، چې د هغه کناهونه ورته وبښي؟ نو پر خپلو گناهونو او ناوړه کړنو ټینگار نه کوي.*

لکه د الله تعالی دا قول:

﴿**وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى * فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى**﴾

[نازعات: 40 و 41]

*__ژباړه:__ څوک چې د خپل رب له مقام څخه وېرېدلي وي او د خپل نفس غوښتنې یې نه وي منلې، نو ځای یې جنت دی.*

ځکه خو سفیان ثوري وايي: له «سدي» څخه مې واورېدل، چې د الله تعالی د دغه قول په اړه یې وویل: ﴿**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ**﴾ د دې ایت موخه هغه شخص دی، چې کله ظلم کوي او یا هم گناه تر سره کوي، نو ورته وویل شي چې له الله تعالی ووېرېږه! د هغه به زړه کې «وجل» پیداکیږي.

الله تعالی په یوه بل ځای کې فرمایي: ﴿**وَإِذَا تُلِيتْ عَلَيهِمْ آياتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً**﴾:

﴿وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيكُمْ زَادَتْهُ هَـذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُواْ فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ﴾

[توبه: 124]

***ژباړه:*** *کله چې کوم نوی سورت نازلیږي، نو ځینې کسان له مسلمانانو څخه د ملنډو په شان پوښتنه کوي، چې وواییځ په دې سره ستاسو د کوم یوه ایمان زیات شو؟ ځواب یې دا دی: هغه کسان چې ایمان یې راوړی، د هر ایت په نازلېدو د هغوی ایمان زیاتیږي او هغوی پرې خوشحاله دي.*

د دې او دېته ورته نورو ایاتونو په اړه امام بخاري او ځینو نورو د ایمان په زیاتېدو او په زړه کې یې د تغییر په اړه استدلال کړی دی. له امام شافعي او حنبل سربېره د جمهورو مذاهبو رایه هم همداسې ده.

په رښتیا هم چې ایمان مطلق باور، له واقعیت سره سم او د دلیل پر بنسټ دی. دا د ایمان تعریف دی او لازمه ده، چې باور مطلق او سل سلنه وي. مثلاً که چېرې یو کس په الله سبحانه وتعالی او د اخرت په ورځ ۹۰سلنه باور ولري او پر ۱۰سلنه ایمان شکي وي، ایا دې ته ایمان ویل کیږي؟ نه. ایمان باید پوره وي او یا هم هېڅ نه وي. ایمان لږ او ډېر نه شي کېدای، هغه څه چې لږ او ډېر کېدای شي، هغه عمل دی، چې د ایمان غوښتنې او پایلې دي. ایمان یوازې کلمه نه ده، چې په ژبه وویل شي. ایمان باید شپږ رکنه وي، یعنې ایمان پر الله تعالی، په ملایکو، کتابونو، رسولانو، د اخرت په ورځ او په قضا او قدر ایمان. د دغو تر شاه به ضرور غوښتنې، ستونزې او مسوولیتونه وي، چې الله تعالی یې په خپلو اوامرو او نواهیو کې له موږ څخه غواړي او دا د دې لپاره دي، چې زموږ ایمان وازمویي. که څه هم الله تعالی زموږ په واقعیت پوهیږي، خو دا زموږ پر خپل ځان د دلیل لپاره دي.

«سید قطب» رحمت الله علیه د عنکبوت په تفسیر کې وایي: «ایمان یوه کلمه نه ده، چې په ژبه وویل شي، بلکې هغه حقیقت دی، چې ستونزې ورسره تړلي، بامسوولیته امانت دی، هغه جهاد چې صبر ته اړتیا لري او هغه هڅې دي، چې زغم ته اړتیا لري. یوازې دا کافي نه ده، چې خلک وایي ایمان مو راوړی، بلکې باید په فتنو کې د لوېدو پر مهال هم په خپل قول ثابت پاتې شي او د فتنو پر مهال هم په خپل قول کې بریالي شي او په زړونو کې یې الله تعالی وي. لکه څنګه چې د ذوب کولو په وسیله له نورو عناصرو څخه طلا راجلا کیږي او خالصه طلا راوځي. دا د الله تعالی په مېزان کې یو ثابت اصل دی او الله تعالی په دې اړه فرمایي:

﴿وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ﴾

[عنکبوت: 3]

***ژباړه:*** *موږ له دوی څخه مخکې کسان ټول ازمویلي دي، الله تعالی هرومرو دا ګوري چې څوک رښتینی او څوک درواغجن دی.*

د همدې په دوام سید قطب رحمت الله علیه وايي: «پر هغه څه حکم کول چې الله تعالی په خپل کتاب کې راوړي، د خپلې خوښې او اختیار امر نه دی او هغه بیا ایمان او یا هم ایمان نه دی.

**﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ﴾**

[احزاب: 36]

***ژباړه:*** *هېڅ مومن او مومنه د دې واک نه لري، چې د هغه څه خلاف حکم وکړي، چې الله تعالی او د هغه رسول یې امر کړی وي.*

نو دا یوه اړینه موضوع ده، ځکه د ایمان موضوع د نیکمرغۍ او بدمرغۍ موضوع ده. بشریت چې الله تعالی پیداکړی، د خپل فطرت قلفونه له هغو کیلي پرته نه شي خلاصولای چې الله تعالی ورته جوړې کړې دي. دغه راز خپلې ناروغۍ ته دارو نه شي جوړولای تر هغه یې چې هغه سبحانه وتعالی ورته جوړ نه کړي. یوازې په منهج کې یې د هر قلف کیلي او هر درد شفا بیان کړې ده.

**﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاء وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾**

[اسراء: 82]

***ژباړه:*** *موږ د دغه قران د نازلولو په لړ کې هغه څه نازلوو، چې د منونکو لپاره شفا او رحمت وي.*

**﴿إِنَّ هَـذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ﴾**

[اسراء: 9]

***ژباړه:*** *حقیقت دا دی، چې دغه قران سمه سیده لاره ښیي.*

خو دغه بشر قلف د هغه جوړونکي او مریض د هغه ډاکټر ته نه وروړي. دغه راز خپل انسانیت، نیکمرغي او بدمرغي په هغه کم ارزښته ماشینونو کې لټوي، چې مادي وسیلې دي او په ورځنیو چارو کې یې کاروي. په دې ښه پوهېږي، چې کله یې دغه ماشین خراب شي، هغه انجینر ته یې وروړي، چې جوړ کړی یې دی او له هغه

څه په دې اړه مالومات غواړي، چې څه ډول کار کوي. خو دا قاعده د یوه انسان په حیث پر ځان نه پلې کوي، چې هر هغه څه خپل خالق ته وروړي، چې تخلیق کړي یې دي. د انسان هغه لویه دستګاه چې ډېره محترمه، دقیقه او لطیفه ده، چې پر داخلي او خارجي برخو یې یوازې هغه څوک پوهیږي، چې تخلیق کړي یې دي.

**﴿إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾**

[فاطر: 38]

***ژباړه:*** *هغه ان د زړونو په پټو رازونو پوهیږي!*

**﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾**

[ملک: 14]

***ژباړه:*** *ایا هغه به مو د زړونو په حال پوه نه شي، په داسې حال کې چې پیداکوونکی یې دی؟ هغه ستاسو په پټو رازونو پوه او هر څه لیدلی شي.* (د سید قطب د ویناوو د اخیستنو پای)

د قرانکریم په هر ځای کې چې د ایمان کلمه راغلې، د صالح عمل کلمه هم ورسره راغلې ده. **﴿الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ﴾** د ایمان کلمه ذکر شوې او موخه یې عمل دی. له بیت المقدس څخه بیت الحرام مکې مکرمې ته د قبلې په لېږد کې الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَمَا كَانَ اللَّـهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللَّـهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ﴾**

[بقره: 143]

***ژباړه:*** *الله تعالی به ستاسې ایمان او د عبادت اجر هېڅکله ضایع نه کړي، باور ولرئ چې الله سبحانه وتعالی پر خلکو ډېر مهربانه او رحم کوونکی دی.*

**«لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ مُؤْمِنٌ»**

**﴿وَمَا كَانَ اللَّـهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾**؛ مفسرین د دغه ایت د تفسیر په اړه وایي: الله سبحانه وتعالی مو هغه لمانځونه چې د قبلې له تغییر مخکې بیت المقدس ته کړي، نه ضایع کوي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حدیث کې بل دا دلیل دی:

**«لَا يزْنِى الزَّانِى حِينَ يزْنِى وَهُوَ مُؤْمِنٌ»**

***ژباړه:*** *زنا کوونکی د زنا پر مهال مومن نه دی!*

یعنې کله چې څوک د الله تعالی له اوامرو نافرماني کوي، په دغه وخت کې ایمان نه لري. په دې مانا چې دی په دغه حالت کې مومن نه دی او له الله سبحانه وتعالی سره یې اړیکه پرې کیږي همدارنگه دی پر دغه اړیکه نه پوهیږي. دغه غفلت، غفلت کوونکی جهنم ته رسوي. که چېرې د غفلت له خوبه راپورته نه شي او صادقانه الله سبحانه وتعالی ته توبه ونه باسي، نو الله تعالی یې په اړه فرمایي:

**﴿وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيراً مِّنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لاَّ يفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْينٌ لاَّ يبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لاَّ يسْمَعُونَ بِهَا أُوْلَئِكَ كَالأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُوْلَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ﴾**

[اعراف: 179]

***ژباړه:*** *دا حقیقت دی، چې زیاتره پیریان او انسانان مو د دوزخ لپاره پیداکړي دي. د هغوی زړونه شته، خو فکر وربانديې نه کوي. سترگې یې شته، خو څه نه پرېویني. غوږونه یې شته، خو څه نه پرې اوري. هغوی د څارویو په شان دي ان له څارویو هم پورته. دا په غفلت کې لوېدلي خلک دي.*

هغه حدیث چې پورته ذکر شو صحیح حدیث دی، په صحیحین او د احادیثو په نورو کتابونو کې راغلی دی. دغه راز په دې اړه ابي هریره رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«لَا يزْنِى الزَّانِى حِينَ يزْنِى وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَا يسْرِقُ السَّارِقُ حِينَ يسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَلَا يشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ»** وفی روایة: «**وَالتَّوْبَةُ مَعْرُوضَةٌ بَعْدُ**»

*ژباړه: زناکار د زنا پر مهال مومن نه دی. غل د غلا پر مهال مومن نه دی او هغه څوک چې شراب څښي د شرابو څښلو پر مهال مومن نه دی. په یوه بل روایت کې بیا د توبې دروازه د دوی پر وړاندې پرانیستې ده.*

امام نووي رحمت الله علیه د دغه حدیث په شرح کې وايي: «هغه څه چې محققین یې د دغه حدیث په اړه وایي دا دي؛ هغه څوک چې دغه ناروا کارونه تر سره کوي، ایمان یې کامل نه دی او دا هغه الفاظ دي، چې د یوه شي د نفې په موخه کارول کیږي او په نفې کې کمال دی. داسې وایي: هغه پوهه چې گټه ونه رسوي، هېڅ پوهه نه ده. هېڅ مال نه دی، تر هغه چې اوښ نه وي. د اخرت له ژوند پرته هېڅ ژوند نه دی. دغه موضوع په

هغه حدیث کې هم واضیح کیږي، چې ابوذر رضی الله عنه روایت کړی دی، چې په هغې کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ»**

***ژباړه:*** *هغه څوک چې لا اله الا الله ووايي، جنت ته داخليږي؛ که زنا او سرقت هم وکړي!*

د پورته حدیث د دلیل پر بنسټ موږ داسې وایو او د حق پیروان هم په دې په یوه خوله دي، چې زناکار، غل، قاتل او نور هغه کسان چې له شرک پرته کبیره ګناهونه تر سره کوي، د دغو ګناهونو له کبله نه کافر کیږي؛ بلکې داسې مومنین دي، چې ایمان یې ناقص دی. که دغه خلک توبه وباسي عذاب ترې ساقطیږي او که چېرې په داسې حال کې مړه شي، چې ګناه یې نه وي پرېښې، نو په داسې حال کې په الله تعالی پورې اړه لري چې ښښي یې او جنت ته یې لېږي او که عذاب پرې راولي او وروسته یې جنت ته استوي.»

په پورته موضوع د امام نووي رحمت الله علیه مانا ته ترجیح ورکوو او تړو یې، ځکه پوره وضاحت یې ورکړی او همدارنګه د شریعت له عمومي قواعدو او نورو شرعي نصوصو سره سمون لري.

د الله تعالی دغه وینا چې وايي: ﴿**وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ**﴾؛ یعنې له هغه پرته بل چاته هیله نه کوي، له هغه پرته بل څوک خپله موخه نه ګرځوي، یوازې هغه ته پناه وروړي. یوازې له هغه څخه د خپلو اړتیاوو پوره کول غواړي. یوازې هغه یې خوښیږي. په دې پوهیږي، چې هغه څه غواړي تر سره کیږي او چې ونه غواړي نه تر سره کیږي. یوازې هغه په خپل مالکیت کې شریک نه لري. هېڅ مانع د هغه حکم نه شي وروسته کولی او هغه تېز حساب کوونکی دی. په همدې دلیل سعید ابن جبیر ویلي دي: «په الله تعالی توکل پوره ایمان دی.» الله لوی او له هر څه خبر دی. دغه راز یوازې الله تعالی د ستایلو وړ او د فضل خاوند دی.

**لیکوال: استاد محمد احمد نادي**

**ژباړن: حبیب الله**